# شمالي وزیرستان: په ځانمرګو بریدونو کې ککړ مهم ترهګر نیول شوی

**د میرعلي په حیدر خیل سیمه کې د سکیورټي فورسز په کامیابۍ سره د ځانمرګو بریدونو مهم ترهګر نیولی دی. د ځانمرګي برید لپاره چمتو شوی موټرسایکل له شل کیلوګرامه چاودېدونکو توکو سره نیول شوی دی.**





تر دي وړاندې د مارچ په پنځمه د میرعلي له علي خیل سیمې څخه ترهګر اویس چې د ځانمرګو بریدونو اصلي طرح کوونکی و، نیول شوی و. د پوښتنو ګروېږنو پر مهال ، ترهګر د ځانمرګي برید د پلان جوړولو اعتراف وکړ او د ځمکې لاندې پټ شوي نور اسانګران او چاودیدونکي توکي یې په ګوته کړل. ترهګرو غوښتل چې په ځانمرګي برید کې د خلکو غونډه په نښه کړي.